مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۰۹/۲۹

# آه،
# وروره!

غرمنۍ تیاره شوه. مور مې اخوا دیخوا سترګې و ګرځولې. له ما مشر زوی یې تر سترګو نشو. ماته یې مخ راواړو او ویل یې: ورور ته دې غږ کړه!
بیرون ووتلم. شاوخوا مې وکتل، څوک نه و .د دیوال شریک ګاونډي یو همزولی ماشوم ،چې دوکان ته راوتلی و، راته ویل چې مور کره دی.
نېغ حجرې ته ننوتلم. د ښوروا په کاسه کې ډوډۍ ماته شوې وه. خواته قاب کې د غوښې ټوټې او کچالو ایښی و.
ما چې مې ترڅو ورور ته خبره کوله، کوربه غږ کړ: لاسونه ووینځه او کېنه!
انکار مې ګټه ونکړه او دې نه ګټې ته خوشاله هم وم!
د ښوروا کاسې خواته کنډولې کې، رنې اوبه وې. پر سر یې د اوري کوچینۍ دانې ښکارېدې او بیخ کې یې شین اوړد مرچ، د بانجان، ګولپې او کدو ټوټې وې. له دې ناشنا مایع مې تر دې وخته څکه نه وه کړې. توکلي مې ترې ډکه کاشوغه خولې ته کړه. کوربه ویل: ډېر ښه کورني اچار دي خوره یې. ایله پوه شوم، چې دا اچار دي.
دا کوربه محترم محمد آغا نومیده. دوی له شینکي شمالي څخه د حالاتو جبر تر سپېره هریپوره را رسولي ول او دلته زموږ دیوال شریک ګاونډیان ول.
ډېره لویه او ګڼه کورنۍ یې وه؛ د پینځو وروڼو او یوې خور اولادونه له مور و پلار سره ګډ اوسیدل. زموږ ترمنځ داسې خواږه روابط وو، لکه ډېر نږدې خپلوان چې یوو.
شاوخوا لس کاله مو په خوشالۍ سره تېر کړل او اوس هم ور سره رابطه پالم.
محمد آغا چې به له کوره راووت، نه یوازې خپلو ماشومانو، بلکې موږ به هم کور ته منډې کړې. هغه، د ماشومانو په اړه ډېر محتاط و او نه یې غوښتل چې بې ځایه وګرځي، له خطر سره مخ شي، یا خپلو کې جګړې وکړي.
پس له شاوخوا درې لسیزو مې شمالي کې د هغوی په خپل کلي کې ولیده. ماته یې هماغه د هریپور دور یاد کړ. هغه وخت زه ماشوم وم او د ده د ږیرې او سر ویښتان تک تور ول. اوس مې د ده سپینې ږیرې ته کتلې او بیا مې په خپله ږیره کې د سپینو تارونو بېړنیو فتوحاتو ته کتل. ما ویل دا عمر هم په خلکو عجیبه نخرې کوي.
د وراره په کور کې یې د شپې ډوډۍ ته اوږد دسترخوان هوار شو .
د ښوروا کاسې ته مې وکتل، یو دم هیبت پسې واخیستم. هماغه د هریپور وخت را یاد شو. شاوخوا مې خپل ورور پسې وکتل؛ خو تر سترګو مې نشو. په هغه خو چا د ثواب په نیت، خپله هغه دنیا ښایسته کړه؛ خو زموږ دا دنیا یې ډېره بدرنګه کړه .
محمدآغا خپل همدا ملګری یاد کړ او څو شیبې داسې خاموشه و، لکه تېر یادونه چې یې د زړه سترګو ته نېغ نېغ کېدل او هر یاد یې د زړه رګونه ور سیزل.

آه،
وروره!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په غیر و لولئ